دولسم پودکاست

## د ځنګلونو د بحث لومړۍ برخه

جنبش: ټولو اورېدونکو او له ولسمشر محمد اشرف غني سره د افغانستان پر تاریخ، جغرافیه، اقتصاد، کلتور، معمارۍ او نورو اړخونو د پودکاستونو مینه‌والو ته هرکلی او ستړي مه شي.

برای این برنامه نوبتی موضوع جنگلات و چراگاهها در افغانستان را انتخاب کرده ایم، که از ارزش های کم نظیر مادی و محیط زیستی کشور است.

ډاکتر صاحب غني د ځنګلیزې هوا په صفا هرکلی او ښه راغلاست درته وایم.

دکتور غني: بسم‌الله الرحمن الرحیم. تاوده سلامونه او احترامات خویندو او ورونو ته. له تاسې نه زښته ډېره مننه چې دا فرصت مو بیا برابر کړ.

جنبش: په ځنګلونو به اول راشوو، څړځایونو او دې ته به وروسته راشوو. افغانستان په ځنګلونو مشهور هېواد نه دی، خو بې‌ځنګله هم نه دی، منظور مې دا دی چې په ډېرو لویو ځنګل لرونکو هیوادونو کې نه دی. غواړم په دې پیل کې په دې وپوهېږم چې دغه پراختیا څومره ده؟ په دا وروستیو کلونو کې کومه هوایي یا ځمکنۍ سروې د ځنګلونو شوې وه؟ چې څومره پراختیا لري؟ څومره یې له منځه تللي او څومره یې پاتې دي؟

دکتور غني: ځواب مو په څو برخو کې دی. لومړی، هوایي سروې ګانې شته. له ۱۹۷۵ نه او خاصتاً له ۲۰۰۱ نه پس، د مصنوعي اقمارو [سټلایټونو] له لارې نه ډېرې منظمې سروې ګانې [شوې] دي. ستونزه په څه کې ده؟ ستونزه په دې کې ده چې دا معلومات چې یو چیرې پراته دي، ټول [سره یوځای شوي نه دي، په یو منسجمه توګه، په یوې اداري کې، په یوه لاس نه دي راټول شوي. د مثال په توګه، جیالوجیکي سروې چې موږ اول په خپلو پیسو [وکړله] او پس له هغه نه د امریکې دولت پیسې ورکړلې، زښت ډېر معلومات لري، مګر دا ټول بېرته په عملي توګه چې په پروګرامونو بدل شي،

نه شول. همدغه رنګ د ملګرو ملتونو مختلفو موسسو او امریکایانو شاید تر یو میلیارد ډالرو په اطلاعاتي منابعو باندې لګولي وي، اما اکثره یې بې ګټې دي. داخل د حکومت کې هم یو انسجام نه و، ځکه د معدن وزارت یو قسمت معلومات ټولول؛ د کرهنې وزارت بل خوا ته [و]، د چاپېریال ادارې [بل خوا کار کاوه]، نو دا [ټول معلومات] تیت دي. او هغه طرحه چې ما راوړې وه چې [د] مرکزي احصائیې [اداره] د معلوماتو په لویې ادارې باندې بدله شي او ډیجیټل ته لاړ شوو؛ اساس یې دغه و چې دا ټول [معلومات] باید په یو لاس کې راوړو. له بدې مرغې دې درېیو کالو کې دا [پروګرام] مخ ته نه دی تللی. اما یو اساس د معلوماتو شته، له هغه [پرته] نور په حدسیاتو تړلي دي. [البته] یوه خبره تر ډېره حده پورې معلومه ده، [او هغه] دا چې د شلمې پېړۍ په اخري دوه ویشت کالو کې موږ یوه ډېره برخه د خپلو ځنګلاتو له لاسه ورکړه.

جنبش: دا د شوروي اتحاد د یرغل کلونه وو.

دکتور غني: د شوروي د یرغل نه پس موږ یوه ډېره برخه د ځنګلو له لاسه ورکړله. ځینې یې ډېر بې رحمانه پرې شول، د نظامي عملیاتو [د وجې] نه او [بل دا] چې ولس وږی او تږی و، هغوی هم خاصتاً د کورونو [او] ځان تودولو لپاره ځنګلونه پرې کړل.

بله خوا یې معلومدار ډېر لوی قاچاق [و]. پخوا له دې چې پاکستان منځ ته راشي، ددې برخې لرګي چې پنجاب ایالت او وروسته بلوچستان، سندهـ او خیبرپښتونخوا شوو چې اول کې یې نارت ویست فرنټیر ورته ویل، له هندوستانه واردېدل. د هندوستان او دوی منځ کې چې سرحد ټینګ شو، له بده مرغه زموږ ځنګلو ته یې مخه راوړله.

نور ابعاد یې هم شته چې بیا توضیحات ورکولای شوو، مګر شاید موږ څلورمه برخه د خپلو ځنګلاتو په هماغه دوه‌ویشت کالو کې او څه پس له هغه نه له لاسه ورکړي دي.

جنبش: څومره به پاتې وي چې خلکو ته یو تصور پیدا شي؟

دکتور غني: اوس تخمیني [ارقام دي]. بهترین تخمین د دوو هندوستاني محققینو له خوا شوی دی او دا په حدود د ٦٦۴٧ کیلومتره مربع ساحه ده. اما ابعاد مختلف دي، په اطمیناني ډول دا نه شوو ویلی، ځکه چې دوه ستونزې دي: یو تعریف د ځنګل فرق کوي او دویم طبقه‌بندي د دې چې څه رقم باید

طبقه‌بندي شي. له يوې دورې د طبقه‌بندۍ بلې دورې د طبقه‌بندۍ ته پرتله سختېږي. نو ضرور ده چې يو منسجم ملي نظام وي او يو وارې [ټول ارقام داسې] تعيين شي چې ابعاد يې منظم وي او هر کال يا هر متخصص له خوا بيا په يوه بله توګه تقسيمات په کې را نه شي، [چې بيا] د پرتلې وړ وي.

جنبش: بلی تعریف بسیار مهم است، من میخواستم سوالی در این زمینه دقیقاً داشته باشم که ما وقتی جنگل می گوییم فوراً کوه و درختان کوهی در خاطره‌ها زنده میشود. غیر از جنگلات کوهی دیگر جنگلات هم داریم که در این تعریف بیاید؟

دکتور غنی:  ایا تعریف جنگل را که اداره غذای ملل متحد (FAO) مطرح کرده و مورد توجه است استعمال می کنیم، که درختهایی را که از پنج متر بلندتر است و حداقل یک هکتار زمین است؛ یا انواع مختلف را در نظر می گیریم. طور مثال، در افغانستان درختهایی وجود دارد که بین بُته و درخت است که از دو متر بالاتر نمی شود اما از نگاه سبزی و از نگاه تاثیرات نهایت مهم است.

نکته دیگر این است که جنگل از کوه، از دریا، از دشت و از زمین زراعتی جدا شده نمی تواند. همه این یک نظام واحد است که از آسمان تا زمین را در بر می گیرد و از این جهت، نکته کلیدی این است که در هزار سال گذشته بدبختانه مقدار ساحه سبز ما قابل ملاحظه تغییر کرده و یک [نشانه] واضح آنرا را در این دیده می توانید که خط مونسون یعنی هوای مرطوبی که از هندوستان می آمد، به سرعت در حال کم شدن است. این خط در گذشته  ولایت کابل و تمام ساحات آنرا در بر می گرفت. بالاخره این رفته به سروبی، حالا شاید تنها در ننگرهار و حتی در طول خط دیورند باشد. و تاثیر این نهایت زیاد است. اگر هوای تابستان ما دو درجه کمتر می بود شاید قسمت زیاد افغانستان را درخت بلوط می گرفت. بناً باید تمام نظام را مورد نظر بگیریم و در اینجا طبقه‌بندی های مختلف دارد که در حدود حداقل ۱۱ رقم طبقه‌بندی بته‌ها و نباتات و درخت‌های بزرگ ما وجود دارد که هر کدام این توجه خاص می خواهد.

جنبش: که باز هم واضح شود برای شنونده‌ها، ما جنگلاتی  در ارتفاع بلندتر در کوه‌ها داریم، ولی جاهایی است که در ارتفاع پایین‌تر جنگلی باشد؟

دوکتور غنی: بلی معلومدار، جزیره درقد که یکی از جزایر مهم ما است، اما جزیره است در آمو.

جنبش: بین افغانستان و تاجکستان؟

دوکتور غنی: بلی با تاجکستان؛ جنگلات دارد. در گذشته بغلان، قندوز، تخار و سلسله این دوام می داشت تا به سمنگان، بلخ، کل کوهبند ترکستان را که می گوید، سرپل، جوزجان، بادغیس، هرات. اگر در قرن نوزده اسناد هیئت تعیین سرحد را ببینیم بادغیس به اندازه ای جنگلزار بود و تنوع حیوانات و پرنده‌ها در آن به اندازه ای بود که قابل باور نیست. همچنین آقچه یکی از مهمترین مراتع تولید اسب بود و در میمنه در حدود یک ملیون گوسفند تخمین شده بود. این مراتع سبز بود که تاثیر بسیار منسجم داشت اما مثلی که در گذشته گفتیم تغییر اقلیم که روی داده، تاثیرات نهایت زیاد دارد.

جنبش: یعنی کم شدن ساحه جنگلزار ما تنها به علت جنگ‌ها و مداخله انسان نبوده، بیشتر به محیط و تغییر اقلیم رابطه داشته است؟

دوکتور غنی: تغییر اقلیم پس با شیوه استفاده مردم ارتباط داشته است. ما بدبختانه تسلسل یک نسل با نسل دیگر [وجود نه داشته و این انقطاع] از نگاه محافظت منابع طبیعی ما بسیار وحشیانه بوده، ظالمانه بوده. یک قصه در بادغیس است که واقعاً قابل دلچسپی است. یک مدیر زراعت بود اعلان کرد که پسرش فوت شده، مردم سر مقبره که آمدند گفتند [در] تابوت چیست؟ یک شاخه درخت پسته بود. مردم گفت این درخت پسته است، این چطور بچه ات است؟ گفت همین اولاد من است از خاطریکه درخت را [مثل] اولاد تان نبینید، دوام تان [تامین شده] نمی شود. ما مشکل عظیم چوب سوخت داشتیم و از این خاطر اول بلوط خود را از بین بردیم که به زغال بدل شد. بعد از آن کارهای ساختمانی آمد. انواع آنرا اگر از قندهار تا هرات ببینید کمترین استعمال چوب است چون چت‌ها چوبی نیست، سقف‌ها مدور استند. مردم که از شرق می روند عموماً دعا می کنند، خیال می کنند که اینها مقبره ها است. اما کل این ارتباط [با] این دارد که چوب کم بود اما وقتی که مارکیت ملی به وجود آمد و چوب حرکت کرد، شیوهٔ استفاده ما ظالمانه [تر شد]. بته‌های بسیار با ارزش خود را مثل شیرین بویه را از بیخ کندیم که در بازارهای منطقه یی بفروشیم. و بعضی از این ظالمها خاصتاً هدایت می دادند که باید بته را از بیخ بکنید تنها حاصلش را نیاورید. همچنین انواع دیگر بته‌های ما... بته‌های ما که ریگ‌های ما را استوار نگه می کرد و هرات یک نمونه بزرگ این است، با تراکتور اینها را از بین بردند. بنابرین اقلیم با انسان ارتباط دارد و انسان پس با فهم. فهم مشترک و دیدگاه که چه با ارزش است؟ و چه باید حفظ

شود؟ این یکی از نکات کلیدی عدم یک روایت واضح و مشخص ملی ما بوده که موجب مشکلات ما شده [است].

جنبش: تاسې د یوه تعریف له مخې وویل چې حداقل یو هکتار ځمکه د هغو ونو چې لږ تر لږه دوه متره لوړوالی ولري ځنګل بلل کېږي د یوه تعریف له مخې.

دکتور غني: نه، دوه متره نه پنځه متره... د ملګرو ملتونو له خوا، اما بل یې دا دی چې دوه متره موږ لرو او دا دوه متره باید نظر کې ونیسو دا هم ځنګل دی. بوټی ورته وایې، ځنګل وایې ... ځکه باید پوه شوو، څه ته چې موږ ځنګل وایوو، ټولو ته یې وایو... د FAO تعریف کې له پنځه متره اوچتې [ونې یادې شوې] دی.

جنبش: مقصد مې د دغه سوال نه دا و چې موږ که دغه تعریفونه تطبیق کړو داسې تفکیک راوستلی شوو چې څومره ځنګلونه زموږ یا څومره ځنګلي ساحې زموږ پراخې او لویې دي او څومره کوچنۍ دي چې دغه یو هکتار یا حداقل دغو ساحو کې محدودېږي؟

دوکتور غني: مخکې مو عرض وکړ، معلومات د [اقمارو یا سټلایټونو] اسنادو له لارې راټول شوي دي. هغه څېړنه چې ضرور ده او هغه پوهه چې په متمرکزه توګه اوسي او یو لاس وي، دا زما یوه لویه موخه وه چې له بده مرغه عملي نه شوه او اوس شاته تللې ده. نو څه چې وایو، دا حدسیات دي. په دقیقه توګه [اندازه] نشته، ځکه له پاسه یې چې کتل [معلومات یې ټولول] اوس به قمري کامرې دقیقې شوې وي، [خو پخوا یوازې] هغه ساحه [ثبت شوې] وه چې هغوی کتلای شوه. که [له هغې نېټې] شاته ځئ- ځکه چې کامرې په منظمه توګه بهترې شوې دي- [نو] باید وکړی شئ چې [د اوسني او پخواني وضعیت] پرتله وکړئ. د دې لپاره له ۱۹۷۵ نه دې خوا باید وکړای شوو چې [ارقام] را ټول کړو او له ښه مرغه اوس امکانات برابر شوي دي چې دا ډېرو ګزافو پیسو ته ضرورت نه لري. [یوازې] تخنیکي پوهې او زړه‌سواند [پرسونل] ته ضرورت لري.

جنبش: و ملکیت جنگل ها از روی قانون فکر کنم با دولت باشد، چرا در بعضی جاها مثلاً من در منطقه خود شاهد بودم که قوم‌ها بر سر جنگل مناقشات و منازعاتی داشتند.

دوکتور غنی: بین فرمایش قانون اساسی راجع به منابع طبیعی و اصول و عرف‌های ملی و محلی ما [باید] به تفکیک قایل شویم. مدیریت جنگلات در طول هزارها سال از طرف مردمی که در ساحه شان جنگلات وجود داشته صورت گرفت. ما بهترین نوع ترکیب همکاری دولت و ملت را هم داریم و بدترین اش را هم. بهترین شان نمونه هایی استند که دولت حامی حفاظت جنگلات با ملت میشود. پارک‌های ملی یکی از نمونه های این است. اگر واما را در نورستان ببینید مردم اصول نهایت واضح داشتند در طول قرون حتی از قبل از اسلام شروع شد با دین مقدس اسلام محکمتر شد. اگر کسی یک میوه را از واما می گرفت جریمه می شد. فصل‌های بسیار خاص و منظم [برای میوه چینی] وجود داشت. همچنان شیوه حفاظت، جنگلات را که در باقی نورستان حفاظت می کردند یا در لویه پکتیا و یا جنگلات جلغوزه را در نقاط مختلف کشور. بدترینش هم فعلاً بدبختانه همین امروز در پارک ملی واما وجود دارد. یک گزارش در [نشریه] ساینتیفیک امریکن چاپ شده که نشان میدهد که به فجیع ترین صورت جنگلات در پارک ملی واما در حال قطع شدن است و [در] این دست مافیای چوب است. با تمام ادعایی که صورت گرفته است از طرف طالب‌ها که در این قسمت اقدام می کنند، بدبختانه این بالعکس است. و شبکه‌های جرمی در طول دیورند در قاچاق چوب دست وسیع داشتند. که این بدترین نمونه هایش است. از جهتی که یک نسل ترجیح می دهد منافع آنی خود را بالای نسل‌های دیگر. بهترین مثالش اجماع سرتاسری مردم لویه پکتیا است. پکتیکا، پکتیا و خوست روی حفاظت و توسعه جنگلات جلغوزه. و این همکاری دولت از این جهت صورت گرفت که ما بازار صادراتی جلغوزه را ایجاد کردیم که ارزش حفاظت جنگلات به نفع همه تمام شد. نوع تقسیم فرق دارد، و کوه‌های جنگلدار جز تقسیمات بین اقوام مختلف بود. او هلته دوه رسمه دي: یا په خوله... خوله معنی دا ده چې هم مېرمنه او هم ښاغلي په کې حق لري [د] فرد په حیث باندې یا په مېړه باندې.

جنبش: پکتیا کې؟

دوکتور غني: پکتیا کې! او کونړ کې مو دا لیدلي دي. نو دلته ضرور ده چې یو لیدلوری وي چې له یوې خوا باید ولس خپله ګټه وګوري، چې په منظمه توګه کومې ونې نه څه رقم ګټه اخیستی شئ، او د ځنګل په نوي کولو کې، د ځنګل په پراخولو کې څه اقدامات په کار دي او بیا ساتلو لپاره یې [باید

څه وشي]. ټوله نړیواله تجربه ښیي چې بې د ولس له برخې اخیستو نه تاسې ځنګلونه په زور نه شئ ساتلی. باید ولس په کې ګډون وکړي. دا، پوهه او مشترک اقدامات غواړي.

جنبش: تېره خپرونه کې موږ په سیندونو وغږېدو. د ځنګل او سیند رابطه شته؟

دوکتور غني: هو جنبش صیب، څکه لومړی خبره دا ده [ځنګلونه] دي چې خاوره ساتي. په دې معنی، واوره چې کېږي دا ځنګلونه یې ساتي، هغه بېرته خاورې ته ځي او دا خاوره بېرته ټول نظام د طبیعت ژوندی کوي.

دویم د سیندونو په شاوخوا کې ځنګلونه دي. مرغان او نور ټول حیوانات په دې کې [وي]. همدارنګه په لویو درو کې ورشوګانې راغلې دي او دا د غرو په ټول امتداد کې [وي]. ځینې ځایونو [کې] شاید تاسې تعجب وکړئ، لکه بدخشان کې د شیوې جهیل. د شیوې جهیل په ژمي کې مطلق د واورې لاندې وي، اما په اوړي کې لویه کوچیانۍ ټولنه د شیوې په شاوخوا کې وي. دا [سیمه] له شغنان نه لږ څه ښکته ده، زښت ډېر اوچت [ځای] دی، مګر د ټول شمال شرق [د مالدارۍ] یوه ډېره برخه په دې باندې درېدلې ده. زموږ ټوله مالداري بې له غره او د اوبو له منسجم ارتباطه نه کېږي. څکه پسونه دي که وزې دي - پسونه مضر نه دي، وزې له بدهمرغه له تاریخي نظره مضرې دي -که اوبه نه وي ورشوګانو نه [پیونده]ګټه نه شي اخیستی. او دا ټول څرځایونه او د مالدارۍ حرکتونه -که لنډ حرکت وي د څو کیلومترو یا اوږد وي د څو سوو کیلومترو- دا ټول د سیندونو، غرونو، درو او بیا د دښتو په ارتباط سره یو ځای شوي دي.

جنبش: د ورشوګانو مسئله څنګه ده؟ د ځنګلونو غوندې دوی ته هم په دغه بهیر کې زیان اوښتی که مصئون پاتې دي؟

دوکتور غني: ډېر سخت [ځپل شوي]، څکه لومړی جګړه وه، پس له هغه نه [وچکالي وه] خاصتاً هغه پنځه کاله چې له ۱۹۹۶ نه تر ۲۰۰۱ پورې راغله او پر هغې سربېره مرض چې راغی. [دې ټولو] زموږ مالداري دومره کمزوره کړه چې شاید له ۸۰ تر ۹۰ فیصده مالداري [زیانمنه شوې وي]. او دا په یو وار [په دې] نه شئ [جبران]کولای چې له بل ځای نه واردات وکړئ. زموږ [د ژوند]کوچیانۍ یا مالدارۍ برخه چې اساسي [برخه] ورته ووایو، زموږ د اقتصاد، حداقل ۲۰ تر ۳۰ فیصده [جوړوي] او

زموږ اقتصاد په مالدارۍ ولاړ و. زموږ د صاداراتو له نظره، قره‌قل ته که وګورئ، وړۍ ، پوست، غوښه... دا ټول په مالدارۍ [ولاړ] وو. نو مالداري ډېره سخته خوړه شوې ده.

زه یې یو مثال درکوم، څو کاله مخکې شمال کې وچکالي راغله، موږ عاجل ترتیبات ونیول چې پسونو ته، خاصتاً هغه چې نوي پیدا شوي دي، [هغو ته] څنګه واښه برابر کړو. پوهېږئ [په] څو تمامېدل؟ په حدود د ۴۰۰ میلیونه ډالره!

جنبش: یوازې د یوه ولایت لپاره؟

دوکتور غني: څو ولایته وو. بادغیس و، فاریاب او جوزجان. افغانستان باید له هلیکوپټر نه وګورئ چې واقعاً هم د ځنګلونو په اهمیت او هم د ورشوګانو [اهمیت] باندې [پوه شئ]. موسم چې ښه وي له بلخ یا له سمنګانه نیولې هماغسې تر بلخه پورې او بیا فاریاب او [نورو کې] ... دا تېپې چې وګورئ داسې شنې وي چې حد و حدود نه لري. اما دویم کال که وچ وي بیا پوهېږئ چې ولې هغه تعداد چې پخوا و چې په میلیونو پسونه په دې کې وو، اوس ولې نشته. نو د دې [په] اهمیت باندې له بده مرغه موږ د ولس په حیث نه یوو پوه شوي. ځکه زموږ د مکتب کتابونه، د پوهنتونو کتابونه او نور ټول، بل رقم لیکل شوي دي. هغه ترتیب چې یوه ملي پوهه زموږ د پانګو او خاصتاً د طبیعي زېرمو او پانګو [په اړه] وي له بده مرغه تر اوسه نشته. نو ورشوګانې ډېرې سختې زیانمنې شوې دي.

بله دا چې ورشوګانو هم لکه د غرونو عرفي حقوق درلودل. په دې معنی چې معلوم و چې د کومې کوچیانۍ ډلې یا نیمه کوچیانۍ دهنشین چې وو چېرې د دوی د څرځایونه دي. دا [شفافیت] په منظمه توګه [موجود] و. د کوچیو او دهنشینو مشکلات نوي نه دي، له پېړیو [راهیسې] دوام لري، اما اصول یې ډېر واضح وو. طریقه یې د جرګو وه یا به په جګړو بدلېده. [خو وروسته] دا نظام مات شو، خاصتاً مرکزي افغانستان کې چې هم له جنوب نه کندهار او هلمند نه [کوچیان] راتلل او هم له لویې پکتیا نه. شمال شرق او پنجشیر کې دا نظام پاتې و. دلته ستونزه نه وه ځکه له شمال‌شرق نه، له بغلان نه به چې تلل مرکزي افغانستان خوا ته، هلته روابط ښه وو. اما چې بدخشان ته به تلل بدخشان کې یې ورنه د دې ټولې لارې حق اخیسته. نو مختلف [شیان] دي. دا ډېره ضرور ده چې یو انسجام وي ځکه د پسونو او نورو مالونو د یوې خوا نه باید منسجمه طریقه د څرځای وي له بلې خوا نه د دې حیواناتو سرې بېرته دا ټول طبیعت ژوندی کوي.

ستونزې په څرځایونو کې نه دي، عموماً ستونزې په لارو کې دي. د داود خان په جمهوریت کې خلکو طریقه [پیدا کړې] وه چې [مالونه یې] په لاریو کې انتقالول، ځکه د غوښې قیمت ډېر اوچت و. نو لارې چارې باید پیدا شي چې په اساسي توګه ولسي همغږي موجوده وي او تضادونه حل شي. مګر [کله چې] دا تضادونه ډېر شوي وو، نتیجه یې دا وه چې موږ [حتی] د چرګ غوښه له برازیل نه [واردوله]، د غوا غوښه او دا نورې خو پرېږده... تر څو چې بیا مو په هغه برخه کې اقدامات وکړل او ډېره لویه پانګه، تقریباً یو میلیارد ډالر زموږ پانګوالو د چرګانو [برخه کې] پانګونه وکړه. اصلي [موضوع] ته که راشوو، څرځایونه اهمیت لري، ټول افغانستان کې که صحراګانې دي، که غرونه دي، که درې دي. دا ډېر سخت فشار لاندې راغلي دي او د دې نتایج یوازې کوچیاني ژوند باندې نه دي، دهنشین باندې هم لوېدلي دي او ښارونو باندې هم، ځکه صحراګانې په ډېرېدو دي او بالعکس که څرځایونه وساتئ، د صحرا کېدو نه ممانعت کېدای شي. غیر له هغه نه به دا چارګامه صحرایې کېدلو خوا ته روان وي.

جنبش: خوب یک خطر این است که با از بین رفتن چراگاه‌ها همانطور که شما اشاره کردید صحرایی شدن و از بین رفتن مناطق سبز ما تسریع میشود، ولی مشکل دیگر را که در این سالها شاهد بوده ایم برخوردهایی بوده که بین مالدارها که معمولاً کوچی بودند و در بین دهنشین در جاهای مختلف از خوست گرفته تا کنر و مخصوصاً در میدان وردگ صورت گرفت. چه باید شود که از بروز اختلافات جلوگیری شود؟

دوکتور غنی: قدم اول ایجاد یک دیدگاه ملی است که مالداری از منابع اساسی افغانستان است و ضرورت به انسجام، مدیریت و سرمایه‌گذاری منسجم دارد. تنها پشم را ببینید، بهترین پشم افغانستان از غزنی به ارزانترین قیمت صادر میشد به پاکستان، پس به افغانستان صادر میشد برای قالین. این باید به حیث یک زنجیر ارزش دیده شود. دوم، حقوق باید به صورت اساسی هم از نگاه علمی و هم از نگاه مشارکت به وجود بیاید. حیوانات را در یک طرف بمانید، مسئله زنبور عسل را ببینید. عسل افغانستان از بهترین انواع عسل است، اما هیچ نقطهٔ افغانستان [به تنهایی قادر نیست] که عسل را در دوازده ماه سال تولید کند، چون مؤثرترین طریقه این است که زنبور را حرکت دهید با [توجه] به اقلیم به نقاط مختلف. و این جایست که بین افغانستان مرکزی خوست، ننگرهار و ولایات دیگر که گرمسیر

و سردسیر دارند بهترین نوع همکاری به وجود آمده می تواند. قسمت دیگر [اینکه]، در میدان وردگ چراگاه نیست. میدان‌وردگ خاصتاً بهسود اول و بهسود دوم نقاط حرکت است.

جنبش: گذرگاه است.

دوکتور غنی: گذرگاه است. چراگاه اصلی در پنجاب و اینها وجود دارد. و در هر دو طرف یک تجارت ایجاد شده بود. یک تجارت واضح برای ایجاد تضادها چون پول می گرفتند. بدبینی های محلی به وجود آمد. شیوه [حل] این باز هم از یک طرف ایجاد شرکت‌های منظم است که هم از افغانستان مرکزی هم از نقاط دیگر با هم شرکت‌های مشترک داشته باشند. دوم، شیوه استفاده منظم آن چراگاه‌ها است. سوم، از حرکت مال به پای خود به اکثر قسمت ها جلوگیری شده می تواند. چون این حرکت به پای خود اقتصادی نیست. من در بغلان این را محاسبه کرده بودم. تنها اگر از خاطر آب گوسفند به کوه برود و پس به پای خود بیاید چیزی را که در روز به دست میاورد از نگاه گوشت، نیمش را از دست میدهد. راه‌های واضح همکاری باید ایجاد شود تا به اساس آن ما یک محیط کامل زیست را از نگاه اهمیت آن در حیات اقتصادی خود و همچنین از نگاه همکاری اجتماعی مردم خود بیابیم.

جنبش: بېرته که ځنګلونو خوا ته لاړ شوو، غوښتل مې وپوهېږم یا اورېدونکو ته معلومات ورکړو چې د ارتفاع او ځنګله د ونې د زرغونېدو رابطه څه ده؟ یعنې څومره چې پورته ځوو ځنګلونه ډېرېږي که برعکس؟

دوکتور غنی: اصلي خبره دا ده چې اکثریت زموږ ځنګلونه د ۵۰۰ مترو او ۴۵۰۰ مترو [ارتفاع په] منځ کې دي. ډېرترین ځنګلونه مو د ۱۵۰۰ مترو او ۳۵۰۰ مترو منځ کې دي. هر وار چې ځئ له ۵۰۰ مترو نه پاس، په هره برخه کې ترتیب د ځنګلونو خاص دی. ځینې [ځنګلونه] چې ۵۰۰ او ۱۵۰۰ [مترو] کې دي؛ ځینې نور دي چې ۱۵۰۰ او ۲۵۰۰ کې دي، همدارقم له ۴۵۰۰ نه پاس [ځنګل] نه لرو. هلته واوره ده، خاوره ده، ځینې بوټې او نور شته، اما د ځنګله په تعریف کې نه راځي. دا په منظمه توګه ما نقشه کړي دي او زموږ یو افغان دی چې متاسفانه نوم یې ورسره نشته یو ډېر ښه کاغذ، Powerpoint یې په انټرنېټ کې ایښی چې دا سلسله یې ښودلې ده او یوولس برخو کې یې دا طبقه‌بندي کړې. له دې نه ښکته چې راشئ، له ۵۰۰ مترو نه، لکه مخکې مو چې وویل درقد کې شته، نورو ځایونو کې هم شته، اما دلته بیا باغونه لرو، ځکه تعریف د ځنګل، طبیعي ځنګلونه دي. اما [کله] چې چنار ته وګورئ،

یا اوس دا نور ترتيبات مو چې مخکې نيولي وو چې بېرته ځنگلونه له سره ورغوو، دا هم ځنگله کې راتللی شي. دلته هم له تاريخي نظره يو ډېر مهم مثال لرو او هغه د ځنگلونو مديريت و زموږ په باستاني سيستان کې. د سيستان تاريخ تر ديارلسمې پېړۍ پورې د دې شاهد دی، کوم نظام چې د هلمند په شاوخوا کې پروت و چې د شگې له پرمختگه مخنيوی وشي او ونې کېنول شي - ځکه چې ونې بادونه آراموي او شگه آراموي - هغه بې‌ساری و. همدارنگه د حيرتان په لاره هم. کله چې حيرتان بندر جوړ شو د داود خان په دوران کې د غز ونې او [داسې] نورې [ونې] کېنول شوي وي. [بيا به چې] بادونه راتلل شگې به سرکونو ته نه راتللې. آقينه کې په لومړيو کلونو ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کې يو ساعت [په دې خاطر ولاړ] وو چې باد راغلی [و او] ټوله شگه يې په سرك اچولې وه. دغه ټول ضرورت د دې لري چې [پوه شوو] د شگې انسجام زښت ډېر مهم دی، خاصتاً په دښتو کې. موږ ډېرې پراخې دښتې لرو، هم له هرات نه نيولې تر کندهار او چمنه پورې او هم شمال چې پخوا ډېرې شنې وې اما اوس په لويو دښتو باندې بدل شوي دي او همدارقم د ننگرهار او کونړ منځ کې او دا چې مخکې مې مثالونه درکړل، ضروره ده چې ورباندې فکر وشي.

مرحوم ډاکتر ناکامورا دې برخې کې موږ ته ډېر ښه مثال پرېښود چې موږ ځنگل بېرته رغولای شوو او د ځنگلونو په رغولو سره ټول ماحول بدلېږي او صحرا شنه کېږي.

جنبش: شما از اشتراکات مناطق جنگلی در امتداد خط ديورند صحبت کرديد، وقتی که خط ديورند کشيده شد جنگلات هم تقسيم گرديد، آيا در بخش های ديگر، در سرحدات ديگر هم مثالهايی داريم که جنگل ما با کشورهای همسايه مشترک باشد يا استفاده مشترک از جنگلات صورت بگيرد؟

دوکتور غنی: در پامير...، واخان جنگلات وسيع ندارد، اما در طول دريای پنج در ابتدايش نوع همکاری مشترک تا حدی وجود دارد، اما قسمت زياد درياهای معاون از ما سرچشمه می گيرد. در نقاط ديگر چون آمو سرحد مشترک ما را تشکيل ميدهد، جنگل‌ها از هم جدا شده است. هر کدام به ترتيب خاص است، اما معلومدار آب مشترک و مقدار بارانی که می بارد در اين ارتباط واضح دارد. اما عمده‌ترين جنگلات مشترک ما در طول خط ديورند است.

جنبش: اوس که د ځنګلونو په دا اوسني حالت باندې لږ تم شوو، تاسې وویل چې یوه ډېره برخه یې له منځه تللې ده. ډېر زیان کومو برخو کې کومو سیمو کې اوښتی دی. مثلاً ختیځ کې، جنوب کې که جنوب‌ختیځ کې؟

دوکتور غني: که کوریدورونو ته وګورو، لومړی یو ډېر لوی کوریدور بدخشان، تخار، سمنګان، بلخ، فاریاب، بادغیس او هرات د پستې کوریدور دی. اسناد چې ټول شوي وو ښودل یې د مثال په توګه چې تخار کې د پستې ځنګلات مطلق له منځه تللي دي. همدارنګه بادغیس کې په ډېره شدیده توګه کم شوي مګر لا هم شته، دا یو کوریډور دی چې یو ډېر لوی تاوان یې لیدلی. که د شلمې پېړۍ له ابتدا نه وګورو بغلان او قندوز او تخار چې لوی ځنګلونه او تالابونه یې درلودل ځکه یې ډنډ ورته ویلې. ډنډونه یې چې ورته ویل په همدې [خاطر] باندې و. ډنډ غوري او دا ټول ... ځکه چې تالابونه وو او شاوخوا یې شنه وه، دلته هم ځنګلونه کم شوي دي، ځکه دا ساحه چې مخکې ملاریا وه دلته ډېر کم خلك مېشته کېدل او اوس ښاري ساحې باندې بدله شوې. همدغه رقم قلعه نو او دې شاوخوا ته چې وګورئ چې په نولسمې پېړۍ کې ډېر شین و اوس شاوخوا یې هغه رقم ځنګلونه نشته، مګر سره له دې ارچه‌لیك او پسته‌لیك نومونه مشهور دي. بلې خوا نه لویه صدمه یې چې لیدلې هغه ولایت ده چې تاسې ورپورې تړلي یئ، کونړ. ننګرهار هم ډېره سخته ستونزه لیدلې، نورستان... هر څومره چې لاره خلاصه شوې [زیان رسېدلی]، ځکه چې هلته له پاسه له پارون نه یې په اوبو [کې د ځنګل وهل شوي لرګي] راغورځول. لویې پکتیا کې پکتیکا، پکتیا، خوست او لوګر ... هغه برخه د لوګر چې ځنګل یې درلوده او ازره د دې برخه وه، تاواني شوې دي. مرکزي افغانستان کې له بده مرغه د هژده‌نهر ټولې سرآب برخې چې هغه ټوله برخه یې ساتله، تاوان لیدلې او زیانمنې شوې دي.

جنبش: د نورستان اشاره مو درلوده چې خلك لرګي سیند ته غورځوي د انتقال لپاره، ما پخپله هم د کونړ سیند کې لیدلي چې ډېرې لویې [کُندې یې چې] هغو ته ګرګې وایي، په سیند کې اچولې له یوه ځای نه به یې بل ته لېږدولې په آسان ډول.

غیر از مداخله انسان برای ساختمان و شهرسازی و قاچاق چوب به کشورهای دیگر که پول به دست بیاورند غیر از این، عوامل دیگری هم در این نابودی جنگلات نقش داشته؟ مثلاً آتش‌سوزی‌های غیرعمدی یا مثلاً امراض درختها وغیره؟

دوکتور غنی: آتش‌سوزی یک مشکل دوامدار بوده، مخصوصاً در لغمان که یک قسمت جنگلات اساسی ما در آن وجود داشت و بار بار [آتش گرفته و] مشکلات امنیتی موجب می شد که ترتیبات لازمه در آن ارتفاعات صورت گرفته نتواند. امراض مختلف بوده اما یک تحلیل اساسی که انواع این را شرح بدهد به دسترس ما به صورت اساسی نیست اما حتماً امید است که مطالعات جانبی وجود داشته باشد.

جنبش: یعنی این خطر هم حتماً وجود دارد؟

دوکتور غنی: خطر است همیشه. تمام جنگلات به خطر [مواجه] استند از این جهت. درخت بلوط در امریکا بار بار صدماتی دیده که ده‌ها سال گرفته که از آن برآید.

جنبش: مخکې تاسې د شلمې پېړۍ په وروستیو شلو، دوه‌ویشتو کلونو کې د ځنګلونو د زیانمنېدو خبره وکړه چې جګړې او دا شیان وو. داسې یوه بېلګه هم لرو چې د جګړو زیاتېدو دې برعکس د ځنګل وهنې له مخنیوي سره مرسته کړې وي؟ ځکه چې هغه سیمې ته به خلك نه شوو تلی، حتماً به ځنګلونه پاتې شوي وي.

دوکتور غني: هو، دا لویې پکتیا کې شته چې د خوست-ګردېز سرك چې وتړل شو، لارۍ نه شوې تلی، ټوله ساحه کې ستاسې به په یاد وي چې بمونه یې ایښي وو. زما په یاد دي چې زه یو وار لاړم او د پخوا په چُرت کې وم چې سرك نه هاخوا ته وګرځم، له څلورو خواو نه ملګرو ونیولم. د جمهوریت په ابتدا کې هم د بمونو مقدار دومره ډېر و چې زموږ یو لوی اقدام دا و چې بمونه څنګه لرې [شي]. په دغه چوکاټ کې جلغوزي بېرته ژوندي شول، ځکه د خلکو اعتماد نه و چې ځنګل بېرته پخپله بیارغونه کولای شي. پس له دې نه چې د جلغوزي قیمت اوچت شو، ولس د جلغوزي په اهمیت باندې پوه شو او لویې پکتیا کې جرګې وشولې، ولسي جرګې د خلکو منځ کې، او دوی حتی یوه ډېره مهمه فیصله وکړله، چې پس له هغې نه به وزې نه پرېږدي چې غرو ته لاړې شي. د ونو د محافظت او د ونو ساتلو لپاره دوی خپل دودونه تازه کړل او تر ډېره حده پورې بریالي شول، مګر منځ کې سره له دې چې تاسې مخکې اشاره وکړله ځینې لاسونه وو چې د قومونو منځ کې به یې ستونزې جوړولې، حتی تر وینې پورې هم  دا رسېدلي دي چې هغه یې له بده مرغه منفي برخه ده.

جنبش: از نظر زمانی بهترین وقت نمو، رشد و توسعه جنگلات و حفاظت جنگلات افغانستان چه وقت بوده؟

دکتور غنی: در دوران مرحوم اعلیحضرت اساس پروژه احیای جنگلات در پکتیا به کمک حکومت فدرال جرمنی یا جرمنی غربی آن وقت آغاز شد و یکی از پروژه‌های بسیار مهمی بود، که در قسمت جنگلات صورت گرفت که در دوران جمهوریت داود خان ادامه پیدا کرد، اما بعد از آن متاسفانه صورت نگرفت. دیدگاهی را که من ایجاد کردم و می خواستم به صورت اساسی در سرتاسر افغانستان به حیث یک پروگرام ملی مطرح شود شاید دوره دوم بوده باشد.

جنبش: لنډ... چې دا خپرونه په یوه پیغام باندې پای ته ورسوو، زه گورم دغه وروستیو کې چې د افغانستان بېلابېلو سیمو ته لاړم، دغه پوهه ډېره شوې ده چې ځنگل باید وساتل شي، هم د اقلیمي دلایلو له خاطره هم د دوی اقتصادي گټو لپاره چې که لرگی ووهي ونه له منځه ځي د یوې ورځې گټه یې ده اما که ونه وساتي د اوږدې مودې گټه یې ده. کوم کارونه باید وشي فکر کوئ غیر له پروگرامونو نه او د نظریاتو د وړاندې کولو نه چې خلك واقعاً د خپلو ځنگلونو ساتنه پخپله وکړي؟

دوکتور غني: لومړی دا ده چې خلك باید همدا پوهه [ولري] چې ومو ویل [او] دا [ځنگلونه] لکه د خپلو بچیانو غوندې وگڼي. په دې باید [پوه] شي چې د دوی لمسیان او کړوسیان په دې ژوند کوي او د دوی ټول ژوند په دې [پورې] تړلی دی. غیر له هغه نه موږ صحرا کېدو خوا ته ځو، وچې خوا ته ځو او ټول ژوند به بیا هغه معنی ونه لري. نه به هغه شان شین او زرغون افغانستان وي او نه به دا طبیعت ښکلا وي. دلته دا پوهه په کار ده.

دویم، انسجام په کار دی د کلیو او قومونو منځ کې. ټول ولسونه باید په گډه، اصولو باندې نتیجې ته ورسېږي. دا درته معلومه ده چې یوه وجیزه ده له ښاره وځه له نرخه مه وځه. دا نرخ زموږ چې زموږ په عرفي قوانینو کې یې اوچت رول درلوده باید [دې مرحله کې] بېرته را ژوندی شي.

بله دا چې له اقتصادي نظره باید یو بل ته لاس ورکړو چې بهترینه گټه څنگه کېدای شي او په څه ترتیب کېدای شي. زموږ او ستاسې نیکونه او غور نیکونه ټول په دې باندې اخته وو چې څنگه ونې ډېرې کړي او دا یې خپل میراث گاڼه. اوس دغه امکانات شته، [د] هرې ویالې په څنگ کې که یوازې

چینار کېنوئ یا نورې ونې چې مساعدې دي، په وړې سطحې باندې د ډاکتر ناکامورا د طریقې عامول امکان لري ځکه دغه په ارزانه قیمت په ګډه کېدای شي، دا هغسې لوی مصارف نه لري. له لوی نظره باید یوه لید ته راشوو. خیبرپښتونخوا په دې بریالۍ شوه چې یو میلیارد ونې وکري او زما نظر دا و چې افغانستان باید یو هدف د یو میلیارد ونو ځان ته تعیین کړي. ولس سره مرسته په دې په کار ده. اوس په لحاظ د خدای روسي [وله] (بلیتیس) ورته مه یادوئ چې روسي [وله] کېنوي. پوهېږئ روسي بید [ولې] نه بغیر له ګوګړ جوړولو نه بله ګټه نشته. ډېر زر اوچت شي او بیا لکه تنبل سړي غوندې بیا ټوټه ټوټه شي. او [څومره] اوبه اخلي . دلته تخنیکي پوهه په کار ده چې کومې ونې په کار دي؟ نتیجه یې څه ده؟ او بیا هم هغه ونې چې طبیعت کې دي، د دې رغونه له اوچتې نه ټیټې ته راوستل، د ټیټ نه منځنۍ سطحه کې او د مختلفو ولسوالیو منځ کې، ولایتونو منځ کې او ټول ولس منځ کې همغږي او همکاري په کار ده.

جنبش: به مسایل بسیار مهمی اشاره کردید ولی متاسفانه وقت این برنامه به پایان می رسد. همین بحث را که چگونه جنگلات خود را می توانیم دوباره احیا کنیم، برنامه ها چه خواهد بود و قوانین بین‌المللی و یا کمک هایی که در این زمینه از جامعه جهانی میتواند متصور باشد روی این در برنامه آینده صحبت می کنیم. بسیار تشکر رئیس جمهور محمد اشرف غنی.

دوکتور غنی: تشکر از جناب شما، ان‌شاءالله تعالی صحبت [را] دوام میدهیم. زنده باد افغانستان، یشه سن افغانستان، تل دې وي افغانستان.